## فقهي مقالې

# د فورکس (آنلاین صرافۍ)کاروبار د اسلامي شریعت په رڼا کې




Ketabton.com

لیکنه او څېړنه: مولوي بشیراحمد الحنفي

فاضل جامعة الرشید و خریج جامعة الأزهر

د الفرقان مرکز القرآن الکریم او مدرسة أم المؤمنین حفصة [رضي الله عنها] د مدرسې مسئول

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پیل

د نړۍ د چټک پر مختګ سره هره ورځ د معاملاتو نوي- نوي سیستمونه را وړانه دي کیږي، د دې بازارنو شاته لوی متخصصین ناست وي، او دا سیستمونه چلوي، چي تر ډېره یې په اړه دقیق معلومات را ټولول خورا ستونزمن وي. یو د هغو تجارتونو څخه د فورکس بازار کاروبار دئ، چي په دې وروستیو کي د نړۍ د ګوټ ګوټ څخه په ملیونو انسانان په اخته دي؛ نو اړینه مي وګڼل چي باید پر دغه مهمه موضوع لیکنه وکړم.

ما په دې مقاله کي ډېره هڅه کړې، چي کره او دقیق معلومات لاس ته راوړم، چي په پایله کی یې ما د معتمدو اقتصاد پوهانو، متخصصینو او فقهاء کتابونو ته مراجعه وکړل همدارنګه مي د نړۍ مختلف فقهي مجالس او پرېکړې هم ورسره وکتلې؛ تر څو له هره اړخه معلومات دقیق او کره وي.

## فورکس څه شي دئ؟

فورکس په لنډه توګه د بهرنیو اسعارو د تبادلې بازار ته ویل کیږي. زموږ په عامه اصطلاح بعض کسان ورته آنلاین صرافي هم وایي.

یا په بله اصلاح د بهرنیو اسعارو د تبادلې کاروبار او یا د بهرنیو اسعارو د تبادلې نړیوال سټاک بازار هم ورته وایې.

په انګلیسي کي ورته FOREX یا FX وایې چي د دغه انګلیسي ( Foreign Exchange market) جملې څخه اخستلی سوی دئ.

**په فورکس کي استعمالیدونکي کرنسي**

په فورکس کي شپږ اساسي بهرنۍ کرنسۍ کاریږي؛ لکه : امریکایې ډالر USD یورو EUR او برطاني پاونډ GBP او چاپانۍ ین GPY او استرالي ډالر AUD او د سوزرلینډ فرنک CHP.

**یادونه:** په فورکس کي د اسعارو تبادله په همجنس کرنسي نه کیږي؛ بلکي په مقابل جنس کرنسۍ کیږي ، مثلا ډالر په ډالرو نه کیږي؛ بلکي ډالر په بلې مقابلې کرنسۍ بانه دي خرڅیږي.

**په فورکس کي د بهرنیو اسعارو د تبادلې اندازه اوخت**

د فورکس د خپل سایټ د معلوماتو مطابق په ورځني توګه پنځه ملیارډ بهرنۍ اسعار سره تبادله کوي چي په اوونۍ کي ۵ ورځي کار کوي؛ یعني له جمعي ورځي څخه بیا تر دووشنبې پوري ۲۴ ساعته کار کوي، خو په شنبه او یکشنبه د رخصتۍ له امله بند وي.

فورکس د نړۍ څلور غټ بازارونه په څلورو بر اعظمو (وچو) کي لکه آسیا ، استرالیا ، اوروپا او امریکا سره یوځای کوي.

**د فورکس د کاروبار ډولونه**

**فوري بازار :** په دې کي د اسعارو راکړه ورکړه دستي او یا په لنډه موده کي تر سره کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ورستی ( د یوې مودې لپاره ) بازار** : د اسعارو د راکړي ورکړي پر یوه ځانګړي قیمت اتفاق کیږي، خو حساب وروسته کیږي.

مثال: په دوشنبه ډالر د یورو په مقابل کې پلورل کیږي، خو ډالر د چهار شنبې په ورځ ورکول کیږي.

**راتلونکی بازار : د** اسعارو خرڅول او تسلیم کول دواړه په راتلونکي کې وي خو دوی اوس اتفاق پر کوي.

**د فورکس مرکزي دفتر**

فورکس هیڅ فیزکي بازار نه لري دا د انټرنټ په واسطه چلیږي، هیڅ مرکزي برانچ او دفتر نه لري؛ بلکي د فورکس ټوله کاروبار د اړیکو او کمپیوټر په وسیله دئ چي دې ته په انګلیسي کي (OTC) وایي چي د Over the counter څخه اخیستل سوی دئ.

**د فورکس تاریخ**

د فورکس فکر بیع مقایضې څخه اخیستل سوی دی. په پخوا زمانه کي چي کله نغده پیسه نه وه نو خلکو به توکي په توکو خرڅول؛ مثلا په غنمو به یې ورجي اخیستلې او...، خو د وخت په تېرېدو سره خلکو د معادنو ګران قیمت ډبري ورسره تبادله کولې؛ مثلا یوه ګران بیه ډبره به په یو اندازه غوښو ورکول کېدل ، بیا وروسته سپین زر او سره زر راغله، بیا نو نوټونه او سیکې راغلې، چي همدغه پرمختګ د فورکس پیل وو.

**په فورکس کي څوک کارو بار کوي؟**

په فورکس کي د نړۍ مرکزي بانکونه، د پانګوني لوی بانکونه، لوی لوی شرکتونه، د بهرنیو اسعارو بروکران( کمېشنکاران)، د پانګونې صندقونه، لوی تجاران او افراد کار کوي، چي په ثانیه کي په ملیونو اسعار سره تبادله کیږي.

**د فورکس د کاروبار څخه مخکي د یوڅو اصطلاحاتو پېژندل اړین دي.**

په فورکس کي د پانګوال کاروبار یو بروکر کمېشنکار مخته وړي.

کمېشنکار (سمسار) یو شرعي اصطلاح ده چي په عام راکړه ورکړه کي کاریږي. اما منځګړی (وسیط) په معاصرو مالي بازارونو کي کاریږي؛ لکن دواړه یو هدف مخته وړي. خو په فورکس کي فعال بروکر یا کمېشنکار هغه شرعي (سمسار) نه دئ؛ کوم چي کارو بار یې د شرائطو په مراعت کولو سره شرعا جائز وي. فقط دومره دئ چي (کمېشنکار) په عامه اصطلاح د دو کسانو تر منځ سودا جوړوي؛ خو (منځګړی) بیا د سودا یا کاروبار په اړه ځنیي معلومات او پوهاوی هم وړانه دي کوي چي دا سودا ګټمنه ده یا نه ده، چي دا عموما په انټرنټي نړۍ کي وي؛ لکه فورکس.

نو اوس چي زه خپل په دې مقاله کي کله کله کمېشنکار کلمه کاروم او کله کله منځګړي کلمه کاروم چي هدف مي ورڅخه یو دئ خو هغه شرعي سمسار نه دئ ځکه په فورکس کي دا کمېشنکاري اصلا جائز نه ده. په فورکس کي چي کوم کمېشنکاران کار کوي دوی خپله مستقیم د فورکس کمېشنکاران نه دي؛ بلکي دوی د نورو کمېشنکارانو وکیلان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ په فورکس کي کمېشنکاران تنها افراد نه وي، بلکي ځيني شرکتونه او بانکونه هم دا رول لوبوي، چي دوی ځانته نور کمېشناران وکيلان درولي وي او په فورکس کي کار ورته کوي.

**په فورکس کي داخلېدل او د هغه شرطونه**

يو شخص نغده پيسه لري اوس غواړي چي پيسې وګټي. دی ځي لومړی فورکس کي ځانته اکاونټ خلاصوي هلته خپل مهم معلومات داخلوي وروسته د هغو شپږو کرنسيو څخه يوه کرنسي لکه ډالر سيستم ته اچوي؛ په دې سره دا کس مستقيم خپله په فورکس کي خپل کار مخ ته نسي وړلی؛ بلکی يو بل منځګړی شرکت يا فرد په واسطه يې کولای سي، په داسي حال کي چي دا بل کس يا شرکت به ځان د فورکس کمېشنکار معرفي کوي. مثلا يو کس غواړي د زرو ډالر کاروبار وکړي او لري ۱۰۰ ډالر، دی د يوه منځګړي څخه ۹۰۰ ډالر قرض ليورج اخلي؛ ترڅو د ده حد زر ډالر ته ورسيږي، او بيا مخکي په ډالر باندي کومه بله کرنسي رانيسي، کله چي د هغه کرنسی قيمت لوړ سي بيرته يې خرڅوي، په منځ کي چي د کرنسی د قيمت لوړوالی اوکښتوالی دئ، هغه ګټه پانګوال ته پاته کيږي.

اوس پر دا هره کاروبار چي پانګوال يې کوي کمېشنکار خپل ګټه ورڅخه اخلي؛ ځکه چي هغه خو قرض ورکړی دئ، دا کس همدې ګټي ته ناست وي. همدارنګه کله چي کمېشنکار و پانګوال ته قرض ليورج ورکړي نو د پانګوال خپل اصلي مال کمېشنکار ورڅخه ضبط کړي ترڅو چي دغه کاروبار خلاصيږي، يعني پانګوال خپل د دغو پيسو څخه غير په فورکس کي د سودا کو بل هيڅ ډول ګټه نسي اخيستلای. بل داچي کله کمېشنکار و پانګوال ته ډالر قرض ورکوي دا دي شرط پر ايږدي چي دی به دغه ډالر د بلي کرنسی په مقابل کي وهي نه خپله د ډالر په مقابل کي.

اوس که چيري دا پانګوال ۱۰۰ ډالر وګټي، نو هغه کمېشنکار د ده څخه خپل ۹۰۰ ډالر کرځوي، دا شخص ته سل ډالر ګټه پاته کيږي

ښه! اوس که دغه شخص چي زر ډالر يې سودا ته اچولي تاوان يې وکړ مثلا ۹۰۰ ډالر خو ده ته کمېشنکار ورکړي وه او سل د ده خپل وه، نو د تاوان په صورت کي بروکر خپل ۹۰۰ ګرځوي او د ده سل ډالر ولاړه تاواني سوه.

دا ټوله کاروبار هغه وخت سر ته رسيږي چي دی خپل کاروبار وتړي، خپلي باقي پيسې راوباسي، که ګټلي وي او که يې تاوان کړی وو کمېشنکار خپل ۹۰۰ ډالر باسي.

يادونه: د فورکس په کاروبار کي تنها پانګوال تاواني کيږي، کمېشنکار چي کومي پيسې د قرض په شکل ايږدي هغه هيڅکله تاوان نه کوي؛ ځکه خو علماء کرام وايي چي دا کاروبار دوکه او فريب دئ او يو طرف پکښې تاوانويني او هغه بل لوري فقط ګټه اخلي اما تاوان ته سر نه نيسي. په اسلام کي د دا ډول راکړي ورکړي تصور نسته، بلکي اسلام وايې: الغرم بالغنم يعني ګټه په تاوان ده[1]

[1]: شرح مجلة الأحكام: م: ۸۷ ص. الأشباه والنظائرابن النجيم: ۱۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د فورکس په کاروبار کې طرفونه**

**لومړی :** هغه پانګوال وي چې غواړي په فورکس کې پانګونه وکړي.

**دوهم :** منځګړی یا کمېشنکار هغه یو شخص، شرکت او یا بانک وي چې د پانګوال لپاره کار کوي.

**دریم :** خرڅونکی د مارجن په صورت کې.

**څلورم :** قرض ورکوونکی؛ هغه چې پانګوال ته قرض ورکوي چې دا کس به کمېشنکار او یا بانک وي چې کمېشنکار ورسره کار کوي.

**یادونه :** د کاروبار په صورت کې کمېشنکار دوه روله لوبوي؛ یو قرضدار بل د کمېشنکار، چې وروسته به یې موږ حکم درته ذکر کړو.

## د اسعارو د خرڅولو شرعي مفهوم

د اسعارو خرڅول یا رانیول هغه تجارت دئ، چې د ګټې لپاره کیږي. په دې کاروبار کې لاندي مسائل داخل نه دي.

۱: مطلق د یوې کرنسۍ رانیول یا خرڅول؛ لکه ډالر په افغانیو رانیول؛ ځکه کیدای سي د دې کاروبار څخه هدف ګټه نه وي بلکې یو شخص خپل مشکل په حل کوي.

۲: په کرنسیو حوالې کول؛ لکه د پور (قرض) حواله وي (نقل الدین (قرض) من ذمة الی ذمة أخری) یا عادي د پیسو مروجې حوالې وي. ځکه د حوالو څخه هدف ګټه نه وي؛ بلکې یوه کرنسۍ په خپل قیمت بل ځای حواله کول وي د خلکو د شخصي کاروبار او مصلحت لپاره.[۲]

**په اسعارو مضاربت کول**

په اسعارو مضاربت کول چې په انګلیسي ورته(speculation) وایي؛ دا هغه شرعي مضاربت نه دئ کوم چې په فقه اسلامي کې ورته اشاره سوې؛ (پیسې د یوه نفر وي او کار دبل چا وي او ګټه په اتفاق سره تقسیم کیږي)

په اسعارو کې مضاربت یو ډول قمار یا مجازفه غوندي دئ؛ هغه داسې چې د اسعارو راکړه ورکړه یو خطر دئ ځکه عادي افراد د اسعارو او بازار په خطرناکو تحولاتو باندي نه پوهیږي؛ نو دی چې کله پانګونه کوي خپل مال یو ډول خطر ته ورکوي چې دا قمار سره مشابه دی او حرام دئ.

کل عقد معلق علی خطر الحدوث من عدمه غیر جائز شرعا[۳]

په اسعارو کې د مضاربت معنی دا ده چې کرنسي اخیستل کیږي؛ نه د دې لپاره چې پور (قرض) په ادا کړي یا یو شی په واخلي بلکې د دې لپاره چې ګټه په وکړي.

یا په بله معنا؛ نن یې خرڅوي سبا یې رانیسي او یا نن یې رانیسي سبا یې خرڅوي.

---

۲: دراسات المعاییر الشرعیة (۱) ص ۵۲

۳: وفي فتاوی دار الإفتاء المصریة الجزء : ۷ صفحة : ۲۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

په عامه توګه په اسعارو مضاربت پر اشاعاتو ولاړ وي، ځيني بيا قصدا د خپل ګټي لپاره د بازار نرخ خراپوي؛ يوه کرنسي ډېره خرڅوي چي قيمت يې کښته سي بيرته يې رانيسي. يا عکس د دې کار کوي يعني يوه کرنسي ډېره اخلي چي قيمت لوړ سي ډېر ، بيرته يې خرڅوي په پورته قيمت ترڅو هغه خپل ګټه لاس ته راوړي.[٤]

## د فورکس په کاروبار کي يو څو مهمي ملاحظې او شرعي احکام

١: په فورکس کي (Leverage Financial) په نوم ماليه کاريږي، په داسي ډول چي (کمېشنکار) شرکت يا بانک و پانګوال ته يو يوه اندازه پيسې ورکوي چي خپله پانګه څو چنده په لوړه کړي. دې ته عربي کي (الرافعة المالية) وايې.

**د اقتصاد پوهانو په اند ليورج (الرفعة المالية)**

د خلکو څخه پيسې قرض کول او په هغه سره د خپل مال پانګه لوړول؛ ترڅو تر اصل مال اضافه ګټه لاس راوړل سي او بيا پر هغه قرض پيسو خپل قرضدارانو ته معلومه ګټه (سود) ورکول سي.[٥]

په فورکس کي ليورج په داسي شکل وي چي يو پانګوال زر ډالر لري اوس دی غواړي خپل د رانيولو قوت لوړ کړي يعني د زر ډالر څخه يې و لس زره ډالر ته پورته کړي؛ نو دی بيا دغه ليورج کاروي هغه داسي چي يو کمېشنکار (شرکت وي که بانک او يا افراد) د ده اکاونټ ته په فورکس کي نهه زره ډالر ور اړوي د قرض په شکل، بيا دغه پانګوال د زر ډالر پر ځای په لس زره ډالر خپل اسعار رانيسي او خرڅوي، چي دغه پانګوال بيا هغه کمېشنکار ته پر هر کاروبار يو معلومه فيصدي ورکوي.

**د ليورج د استعمال اساسي هدف**

ليورج د دې لپاره کاريږي چي پانګوال لوړه ګټه لاس ته راوړي يعني کله چي دی زر ډالر لري نو د زر ډالر په اندازه ګټه کوي؛ خو که دغه ليورج وکاروي بيا نو د لس زره په اندازه ګټه لاس ته راوړي.

د ليورج په استعمال کي چي څومره ګټه ده همدومره بيا سخت تاوان هم پکښې دئ، آن تر دې چي کله کله پانګوال د خپل اصل مال څخه خلاصوي.

**د ليورج د استعمال اندازه**

دا چي د ليورج استعمال ډېر خطر لري نو پر منځګړو کمېشنکارانو شرکتونو رقابت وضع کړی چي په محدود اندازه ليوج ورکولی سي . د مثال په توګه:

١: (١: ٢٠)

٢: (١: ٥٠)

٣: (١: ١٠٠)

۴: (١: ٢٠٠)

---

٤: دراسات المعايير الشرعية (المرجع السابق)

٥: الأحكام الفقهية المتعلقة بالرافعة المالية دراسة فقهية مقارنه ص ١٣٧١

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵: ( ۱: ۴۰۰ )

۶: ( ۱: ۱۰۰۰ ) په فورکس کې تر دغه حد هم ليورج کارېدلی سي.

د دې مثال داسي راځي؛ يو شخص ۱ ډالر لري، اوس دی لومړی آپشن ( ۱: ۲۰ ) ليورج کاروي؛د دې معنا دا ده چي اوس دی د يوه ډالر پر ځای شل ډالر لري يو ډالر خپل لري ۱۹ يې د کمېشنکار څخه د ليورج په شکل قرض کړه.

**د ليورج پر استعمال د شريعت ځيني احکام**

**پر قرض ګټه اخيستل سود دی**

**لومړی:** ليورج چي کومي پيسې پانګوال ته ورکوي هغه قرض دئ او کمېشنکار بيا د پانګوال څخه پر دغه قرض د هر کاروبار پر سر ګټه اخلي نو دا خو معلوم سود دئ، چي په اجماع د فقهاء حرام دئ.

۱: علي بن أبي طالب رضي الله عنه قال : كلُّ قرضٍ جرَّ منفعةً فهو رِبًا.[۶]

۲: عن فضالة بن عبيد أنه قال : كلُّ قرضٍ جرَّ مَنفَعَةً فهو وجهٌ من وُجوهِ الرِّبا.[۷]

وقد نقل ابن المنذر إجماع العلماء على ذلك فقال :أجمعوا على أن المسلف إذا اشترط على المستسلف زيادة أو هدية فأسلف على ذلك أن أخذ الزيادة على ذلك ربا.[۸]

قال العيني: (أجمع المسلمون بالنقل عن النبي صلى الله عليه وسلم أن اشتراط الزيادة في السلف ربا حرام).[۹]

**دحديث څخه د استدلال**

په حديث شريف کي په واضحه توګه يادونه سوې چي هر هغه قرض چي ګټه ولري هغه سود دئ. نو کمېشنکار چي پانګوال ته قرض ورکوي او پر هغه بيا د هر کاروبار پر سر ګټه اخلي نو دا معلوم سود دئ.

**دوهم: په عقد (تړون) کي د مقتضی خلاف شرط ايښودل د عقد خلاف دئ**

**الف:** هر شخص د ګټې او تاوان په صورت کي هغه کرنسي اخيستلی سي په کومه کرنسۍ چي ده پاګونه کړې وي دا شرط د پانګوال او فورکس اساسي شرط دي. د دې مثال داسي دئ چي تا يورو رانيول اوس دی ګټه وکړل تاته کمېشنکار اوس يورو نه درکوي بلکي ته مجبوره يې هغه کرنسۍ ته به اړوې په کومه چي تا په لومړۍ ورځ پانګونه شروع کړې ده.

**ب:** دا لومړی شرط چي ته مجبوره کېږې چي هغه کرنسي به خرڅوي؛ دا يو داسي شرط دئ چي کاروبار د رضايت څخه باسي، په ټولو شرعي معاملاتو کي رضايت شرط دئ لکه څنګه چي قرآن کريم ورته اشاره کړې: إِلاَّ أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ[۱۰]

اوس که يو سړی غواړي چي هغه کرنسي واخلي چي ده رانيولې نو کمېشنکار هيڅ حق نه لري چي هغه مجبوره کړي چي خامخا يې خرڅه کړه ځکه په دې شرط کي هم د کمېشنکار ګټه ده ؛ ځکه چي کله دغه کرنسي په ده په زوره خرڅېږي نو د خرڅ په صورت کي بيا کمېشنکار خپل ګټه په دغه کاروبار کي اخلي.

۶: أخرجه الحارث في ((المسند)) (۴۳۷)، والديلمي في ((الفردوس)) (۴۷۷۸)

۷: السنن الكبرى للبيهقي ۵/ ۳۵۰

۸: الاجماع لابن المنذر ص ۱۰۷

۹: .۴۵/۱۲)) (عمدة القاري))

۱۰: النساء:۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ج**: تر ټولو خطرناکه صورت خو همدغه اول شرط دئ هغه داسي چي کله پانګوال په يورو کي ګټه وکړي؛ نو کمېشنکار دی مجبوره کوي چي بايد دا کرنسي په هغه کرنسي خرڅه کړي په کومه چي ده لومړی ځل پانګونه کړې، اوس به پانګوال دا تبادله يا په ګټه کوي يا په تاوان، که تاوان ئې کوی نو دی مجبوره دی خپل کاروبار تر دا بلي ورځي خلاصه پرېږدي، کله چې دی کاروبار خلاصه پرېږدي نو دلته بيا کمېشنکار د سوپ Swap په نوم فيس ورڅخه اخلي. (د دې فيس د شرعي حکم په اړه وروسته تفصيل ذکر کوم)

دا ټول داسي شرطونه دي چي د عقد ( تړون ) د مقتضی خلاف دي. نه د عقد د مصلحت څخه دی او نه د عقد سره سر خوري، نو بناءا دا شرط ايښودل نا جائز دئ. پانګوال چي هر کله کاروبار په هره کرنسی وکړه هغه مقابل کرنسي پانګوال اخيستلی سي.

قال الكاساني في "بدائع الصنائع": ": ومنها، -أي من الشروط المفسدة للبيع- شرط لا يقتضيه العقد، وفيه منفعة للبائع أو المشتري، أو للمبيع إن كان من بني آدم كالرقيق، وليس بملائم للعقد ولا مما جرى به التعامل بين الناس.[11]

" الشرط الفاسد أو الباطل:

هو ضربان: أحدهما: ما يفسد العقد ويبطله، وثانيهما: ما يبقى التصرف معه صحيحا.

الضرب الأول: ما يفسد العقد ويبطله.

ضابط هذا الضرب عند الحنفية: اشتراط أمر يؤدي إلى غرر غير يسير، أو اشتراط أمر محظور، أو اشتراط ما لا يقتضيه العقد، وفيه منفعة لأحد المتعاقدين، أو للمعقود عليه، ولا يلائم مقتضى العقد، ولا مما جرى عليه التعامل بين الناس، ولا مما ورد في الشرع دليل بجوازه.

**دريم : د فورکس په بازار کي خپله کاروبار تر راتلونکي ورځي پوري خلاصه پرېښودل د فيس په ادا کولو سره کيږي**

دې ته د فورکس په بازار کي ( Swap ) ورته وايي، د دې مطلب دا دئ چي که ته غواړې د راتلونکې څلورويشت ساعته لپاره خپل کاروبار خلاصه پرېږدې نو ته بايد خپل اړوند کمېشنکار ته فيس تاديه کړې چي دا تاديه د هر هيواد د وخت سره فرق لري مثلا افغانستان کي د شپې پر ۲:۳۰ باندي که ستا کاروبار د راتلونکي ورځي لپاره خلاصه وه نو فيس درڅخه اړوند کمېشنکار اخلي.

## د سوپ ( Swap ) فيس اخيستلو شرعي حکم

مخکي تر دې چي د سوپ حکم وپېژنو لومړی به د سوپ د تطبيق طرز العمل وپيژنو، تر څو حکمورباندي ورکړل سي؛ ځکه د يوشي چي تصور سم واخيستل سي بيا حکم وربانه دي سم کېدلی سي.

**د مسألې صورت :** په فورکس کي ځيني سودا وي فوري وي لکه مخکي چې موږ د فورکس په ډولونو کي اشاره ورته وکړه.

[11]: في "الموسوعة الفقهية" (٢٦/ ١٣-١٦):

(c) ketabton.com: The Digital Library

فوري کاروبار داسي وي چي ته اوس ډالر په یورو بدلي کړې او کومه کته چي لاس ته راوړې هغه او ستا پیسې تاته اوس درکول کیږي، په ځینو وختونو کي بیا دوې ورځي وروسته ورکوي دا عموما په رخصتیو کي کیږي خو که بالفرض ده اوس دغه پیسې وانخیستلې او غواړي خپل کاروبار تر راتلونکي څلرویشت ساعته پوري خلاصه پرېږدي نو په دې صورت کي به دی فیس تادیه کوي.

بل دا چي سوپ د کمېشنکار سره تړاو لري ، ته چي په فورکس کي پانګونه کوي باید د یو منځګړی ( کمېشنکار ) سره خپل مارجن کښېږدې په دې معنی چي خپلي پیسې چي ته غواړې پانګونه پر وکړې هغه ورسره باید ضرور کښېږدې؛ اوس چي ته غواړې اسعار تبادله کړې نو لیورج به اخلې چي لوړ یې موږ په تفصیل سره بحث و کړه چي دغه لیورج بیا قرض دی د شریعت له نظره اوس چي پانګوال خپله کاروبار د راتلونکي څلرویشت ساعته لپاره خلاصه پرېږدي نو دی به فیس تادیه کوي اوس دغه فیس د شریعت له نظره حلال دی که حرام؟ دلته یې حکم بیانوو.

علماء کرام د سوپ استعمال مشابه کوي د سود سره؛ د ربا صورت یې داسي جوړیږي؛ کله چي کمېشنکار پانګوال ته قرض ورکړی او پانګوال غواړي خپل کاروبار تر سبا خلاصه پرېږدي، چي په دې صورت کي کمېشنکار فیس ورڅخه اخل، اوس نو دا فیس پر هغه قرض باندي اضافه سو چي کمېشنکار و پانګوال ته د لیورج په صورت کي ورکړی وه؛ دلته پر قرض باندي ګټه راغلل چي دا حرام دئ. [۱۲]

**د ربا حکم**

قال الله تعالى: ﴿ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لاَ يَقُومُونَ إِلاَّ كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُواْ إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا وَأَحَلَّ اللّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا ﴾ [۱۳]

قال تعالى :﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا الرِّبَا أَضْعَافًا مُضَاعَفَةً وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " لا ربا إلا في النسيئة "، أو : " إنما الربا في النسيئة " [۱۴]

وروى مسلم من حديث جابر رضي الله عنه قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: « لَعَنَ رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ءاكِلَ الرِّبا ومُوكِلَهُ وكاتِبَهُ وشَاهِدَيهِ وقالَ هُم سَواءٌ ». يحرم الربا فعلُه وأكلُه وأخذه وكتابتُه وشهادَتُه ومنه ما هو من طريق القرض (الدَّين) ومنه ما هو متعلّق بالمطعومات والذهب والفضة.

في قوله تعالى: "وأحَلَّ اللهُ البَيعَ وحَرّمَ الرِّبَا " إنكار على الذين قالوا إنّما البيع مثلُ الربا إذ الحِلُّ مع الحُرمة ضدّان فأنىّ يتماثلان.

حديث أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (اجتنبوا السبع الموبقات). قالوا يا رسول الله، وما هن؟ قال: (الشرك بالله، والسحر، وقتل النفس التي حرم الله إلا بالحق، وأكل الربا، وأكل مال اليتيم، والتولي يوم الزحف، وقذف المحصنات الغافلات المؤمنات)؛ [۱۵]

---

۱۲: مجمع الفقه الاسلامي اتمه دوره په تاريخ ۲۰۰۶/۴/۱۲

۱۳: سورة البقرة/۲۷۵.

۱۴: ( صحيح البخاري ۹۸/۳، وصحيح مسلم ۱۰۹/٤ )

۱۵: رواه البخاري ومسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل دا چي دا ډول فيس اخيستل د خلکو مال په باطله (غلطه) طريقه خوړل دي هغه داسي چي دغه پانګوال خپل کاروبار خلاصه پرېږدي بيا تاواني سي بيا خلاصه پرېږدي د ګټي په نيت بيا تاواني سي او په دې کي کمېشنکار خپلي پيسې وي او پانګوال قرضداره کيږي نو دا خو په باطله طريقه د خلکو مال خوړل دي.

همدارنګه د کمېشنکار له لوري پر پانګوال داشرط ايښودل چي ستا کاروبار خلاصه پرېږدم خو ته به ماته فيس راکوي چي دا شرط خپله د عقد د مقتضی خلاف دئ.

او دا چي په فورکس کي ليورج کاريږي چي هلته قبض د سودا وروسته نه کيږي او ليورج خو قرض وي دی بيا فيس هم پر ايږدي نو دا خو قرض په قرض سودا ده چي داهم حرامه ده.[16]

## په فورکس کي د مارجن ( margin ) استعمال

### د مارجن پېژندل

کوم پانګوال چي په فورکس کي پانګونه کوي نو دی يوه برخه پيسې د کمېشنکار شرکت يا بانک سره ايږدي، يوڅه برخه بيا کمېشنکار ده ته په قرض ورکوي چي هغه ته ليورج وايي د يوڅه ګټي (سود) په مقابل کي، خو د پانګوال دغه برخه پيسې کمېشنکار د ځان سره د ګرو په شکل ايږدي ترڅو پانګوال خپله کاروبار تکميلوي، کله چي کاروبار خلاص سي کمېشنکار د ده برخه پيسې بيرته ورته سپاري.[17]

په يو بل تعريف مارجن دې ته ويل کيږي چي پانګوال د مال يوه برخه پيسې ايږي، يوه لويه برخه بيا په قرض کوي چي غټه سودا او کاروبار وکړي او خپل دغه يوه برخه پيسې د کمېشنکار سره د ګروی په شکل ايږدي.[18]

### د مارجن د استعمال هدف

پانګوال مارجن د دې لپاره کاروي چي د ده اکاونټ د چټک بازار، بې سر او سربند بازار په منځ کي د سقوط څخه وژغورل سي او تاوان ونکړي.

### د مارجن ډولونه

**۱: مارجن اکاونټ (Margin Accoun)** دا عبارت د هغه اجمالي مبلغ څخه دئ چي د کاروبار په اکاونټ کي پانګوال او کمېشنکار ايښي وي.

**۲: غوښتونکی مارجن(Required Margin)** هغه مبلغ چي پانګوال يې د کمېشنکار سره ايږدي ترڅو د تجارت کاروبار خلاصه کړي.

۳:استعمالېدونکی مارجن( Used Margin ) دا هغه مبلغ دئ چي کمېشنکار ( منځګړی ) و پانګوال ته ورکوي چي خپل کاروبار په وکړي چي ليورج هم ورته وايي، خو دا مبلغ د کمېشنکار تر نېګرانی لاندي وي، پانګوال يې تر هغه نسي کښلی ترڅو چي پانګوال خپل کاروبار خلاصه نکړي.

---

۱۶:الأحکام الفقهية المتعلقة بالرافعة المالية دراسة فقهية مقارنة ص ۱۴۱۹

۱۷: سوق الأوراق المالية . دکتور خورشيد محمد اقبال ص ۳۸۵ . الشراء بالهامش في سوق الأوراق المالية دراسة فقهية مقارنه ص ۸۸۰

۱۸: بورصة الأوراق المالية من منظور اسلامي دکتور شعبان البرواري ص ۱۷۸ . أحکام المتاجرة بالهامش دراسة فقهية مقارنة ص ۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴: د استعمال وړ مارجن( Usable Margin)** دا هغه مبلغ دئ چي پانگوال اجازه لري چي نوې پانگه په وکړي وروسته ترهغه چي دی تاواني سوی وي خو دا اندازه مبلغ هغومره وي څومره چي ده لیورج اخیستی وي او یا هغه گرو یا ضمانتي مبلغ وي چي ده و کمېشنکار (منځگړي) ته پرېښی وی.[19]

**د مارجن پر استعمال ځیني مرتب سوي شرعي احکام**

مخکي تر دې چي د مارجن شرعي حکم وپېژنو لومړی به د لیورج او مارجن ترمنځ توپیر وپېژنو

الف: مارجن او لیورج ډېر سره نیژدي دیږ لیورج هغه پیسو ته ویل کیږی چي ستا پر اصل مبلغ ایښودل کیږي ترڅو ستا د پانگي کچه لوړه کړي. او مارجن بیا هغه مبلغ ته ویل کیږي چي ستا څخه یې لومړی کمېشنکار اخلي او د ځان سره یې د کاروبار تر خلاصېدو د گروی په شکل په اکاونټ کي ایږدي.

ب: په فورکس کي د کاروبار په حالت کي کیدای سي چي ستا اصل مبلغ چي تا مارجن په شکل و منځگړي کمېشنکار ته ایښي د بازار د خطرناک تحول په حالت کي ټول تاواني سي یا ستا د لاسه ووځي اما لیورج چي تاته درکړل سوی هغه له منځه نه ځي بلکي پاته کیږي چي ستا د تاوان په صورت کي کمېشنکار خپل لیورج اخلي.

ج : که په ساده ژبه ووایم نو مارجن هغه مبلغ دئ چي کمېشنکار یې درڅخه غواړي او کمېشنکار چي ستا پر مبلغ کومي پیسې اضافه کوي تر څو ستا پانگه په غټه سویه وسي هغه ته لیورج وایي.

۴: که چیري پانگوال په کاروبار کي تاواني سي نو ده ته اخطار ورکول کیږي چي نور مبلغ د مارجن په توگه راسره کښېږده چي ستا د تاوان مخنوی وسي دې ته دوی د مارجن خبرداری وایي که چیري پانگوال نور مبلغ د مارجن په توگه د کمېشنکار سره ایږدي خو ښه دی کنې کمېشنکار د پانگوال اکاونټ تړي چي دې ته دوی اضطراري تړل وایي.

**د مارجن حکم**

**د مارجن استعمال د شریعت د څو مواردو سره په ټکر کي دئ**

**لومړی:** دا سود دی، که چیري کمېشنکار و پانگوال ته پیسې ورکوي چي خپله کاروبار په وکړي بیا پر هر کاروبار د پانگوال څخه معین مبلغ اخلي نو دا خو بانک و پانگوال ته قرض ورکوي او پر قرض بیا گټه اخلي چي همدا عین سود دئ. چي مخکي مو د سود حکم درته بیان کړ.

بل دا چي کمېشنکار د اسعارو د قیمت څخه هم گټه اخلي؛ مثلا لومړی دی یوه کرنسي پر پانگوال په یوه قیمت خرڅوي، خو بیرته په بله کاروبار کي دغه کرنسي بیرته په ارزانه قیمت ورڅخه اخلي.

**دوهم:** په دې کاروبار کي په یوه عقد (تړون) کي دوه کاروبارونه کیږي چي هغه ته سلف او معاوضة (سمسرة ) ویل کیږي چي معنا دا ده چي سلف او بیع سره یوځای سوه چي د دې څخه په حدیث کي صریح منع راغلي ده.

عَبْد اللهِ بْنَ عَمْرٍو رضي الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وآله وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا يَحِلُّ سَلَفٌ وَبَيْعٌ، وَلَا شَرْطَانِ فِي بَيْعٍ، وَلَا رِبْحُ مَا لَمْ يُضْمَنْ، وَلَا بَيْعُ مَا لَيْسَ عِنْدَكَ»[20]

---

۱۹: دار الافتاء المصرية فتوى نمبر ٣٦١٥

۲۰: أخرجه الإمام أحمد في "المسند"، وأبو داود في "السنن"، والترمذي في "الجامع" وصححه، والنسائي في "المجتبى." الاسلام سوال وجواب سایټ فتوی نمبر ۱۲۵۷۵۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوې کاروبار په يوه عقد کې په داسې شکل راځي چې کمېشنکار کوم مبلغ و پانګوال ته ورکوي هغه خو قرض دی او کمېشنکار د هغه څخه ګټه په دو لارو اخلي:

۱: پانګوال بايد د اسعارو راکړه ورکړه د همدغه کمېشنکار د لارې وکړي چې په هره کاروبار کې ده ته ګټه ورسيږي.

۲: د کمېشنکار ورکړل سوی مبلغ و پانګوال ته قرض سو، پر هغه يې ګټه واخيستل او بيرته يې په همغه سودا کې کمېشنکاري هم وکړل نو په يوه عقد کې دوه کاروباره لکه (قرض په سود او کمېشنکاري وکړه) چې د دې څخه صريح ممانعت راغلی .

وقال القرافي رحمه الله: " وبإجماع الأمة على جواز البيع والسلف مفترقين، وتحريمهما مجتمعَين؛ لذريعة الربا" [21]

دريم : شيخ يوسف الشبيلي فرمايي: د مارجن او ليورج کاروبار حقيقي نه بلکې شکلي دئ هغه داسې چې کومې کاروبار د مارجن او ليورج د لارې کيږي په هغه کې کمېشنکار و پانګوال ته حقيقي پيسې نه ايږدي؛ فقط کمېشنکار پر ځان دا لازمه کړي چې ګواکې ما پانګوال ته پيسې ورکړې، ځکه خو پانګوال هغه پيسې چې په ليورج کې د ده په اکاونټ کې ورته ايښودل سوي هيڅ استفاده نسي ورڅخه کولی، منتهی فقط د اسعارو په راکړه ورکړه کې استعمالولی سي.

د دې علت دا دی چې کمېشنکار په دې پوهيږي چې د پانګوال هدف خپله کرنسي نه ده او نه هم دوی غواړي چې فزکي کرنسي لاس ته راوړي بلکې دوی په اسعارو راکړه ورکړه کوي؛ کوم چې د دوو کرنسو تر منځ فرق دئ. پانګوال چې هرڅومره ليورج د کمېشنکار څخه واخلي دی درکوي. نو په حقيقت کې کمېشنکار پانګوال ته د داسې پيسو قرض ورکړ چې د هغه سره نسته او پانګوال بيا په داسې مبلغ ليورج سودا وکړه چې هغه هم د ده سره نسته.[22]

**دريم : د فورکس په کاروبار کې د اسعارو د تبادلې په وخت کې قبض منځ ته نه راځي**

مخکې تر دې چې د قبض شرعي احکامو ته راسو لومړی به د فورکس کاروبار د اسلامی فقهي د صرف ( تبادله) پر احکامو عرض کړو

لومړی : صرف په لغت کې؛ رد الشيء عن وجهه ( د مخ څخه يو شی ليرې کول) يا يو شی په بل بدلول. [23]

قال المرغيناني المرغيناني: سمي بالصرف للحاجة إلى النقل من يد إلى يد.[24]

د احنافو په نيز د صرف اصطلاحي معنا ده: " بيع الأثمان بعضها ببعض" يعني نغده په نغده سودا.[25]

په بله اصطلاح سره زر په سپينو خرڅول او يا سپين په سرو زرو خرڅول. چې د همدې څخه د صراف لفظ هم اخيستل سوی.

---

۲۱: انتهى من "الفروق"(۳ /۲٦٦) و ينظر نقلا عن اسلام ويب فتوى نمبر ۳٦۸۷۹۷

۲۲: نقلا عن اسلام ويب فتوى نمبر ۳٦۸۷۹۷

۲۳: لسان العرب ابن منظور ج ۹ ص ۱۸۹

۲۴: الهدايه ٦/ ۲۵۸

۲۵: السرخسي: المبسوط (۱٤/ ۲)، ابن نجيم: البحر الرائق (٦/ ۲۰۹)، ابن عابدين: حاشية (۵ /۲۵۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې کې د معاصري نړۍ هر ډول پيسې لکه بانک نوټونه، سيکې، سره زر، سپين زر، جوړ سوي او ناجوړ زر، بانکي چکونه او سياحتي چکونه شامل دي.

**خو**

که چيري يو جنس په وزن خرڅ سي هغه ته (مراطلة) وايي. او که جنس په عدد خرڅ سو هغه ته (مبادلة) وايي.[٢٦]

## د صرافۍ او مضاربت فرق

١: په اسعارو مضاربت کونکی چي کومه کرنسي رانسي هغه د دې لپاره نه رانيسي چي دی ورته ضرورت لري، بلکي په ډالرو افغانۍ رانيسي او پټوي يې چي قيمت يې لوړ سو بيرته يې خرڅوي چي ګټه لاس ته راوړي.

اما د صرف په کاروبار کې يې تر هغه نه خرڅوي چي قيمت يې لوړ نسي.

صراف کرنسي د بازار په قيمت اخلي، که لوړ وو که ښکته خو دا کرنسي دی پر هر هغه چا د بازار په قيمت خرڅوي چي هغه ورته ضروت ولري.

په بله معنی که چيري صراف خپله دنده صرافي وګرځوي نو معلومه خبره ده چي د ده هدف هم ګټه ده، خو که چيري صراف د کرنسيو بازار خطر ته اچوي، پورته او ښکته کوي يې؛ نو په دې صورت کې صراف هم د کرنسيو د مضاربت تر حکم لاندي راځي او دا ډول صرافي جايز نه ده؛ ځکه اسعار ته خطر اچول او د اسعارو بازار پورته او ښکته کول نا جايز کار دئ. دلته ډېره دقيقه باريکي سته هيله ده چي ورته متوجې ووسي.[٢٧]

**د اسعارو په تبادله کې مهم شرطونه**

**لومړی :** د صرافۍ په شرائطو کې يو شرط دا دئ چي په حاضر مجلس بايد قبض وسي يعني د دواړو طرفينو څخه پيسې واخستل سي چي پر همدې باندي د ټول فقهاء اتفاق دئ.

قال ابن المنذر : "وأجمعوا أن المتصارفين إذا تفرقا قبل أن يتقابضا، أن الصرف فاسد.[٢٨]

ودليل ذلك: ما روي عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال: "الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ مِثْلاً بِمِثْلٍ سَوَاءً بِسَوَاءٍ يَدًا بِيَدٍ فَإِذَا اخْتَلَفَتْ هَذِهِ الأَصْنَافُ فَبِيعُوا كَيْفَ شِئْتُمْ إِذَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ.

وقوله صلى الله عليه وسلم :"لاَ تَبِيعُوا الدِّينَارَ بِالدِّينَارَيْنِ وَلاَ الدِّرْهَمَ بِالدِّرْهَمَيْنِ.

وعن عمر بن الخطاب رضي الله عنه أنه قال: قال رسول الله: صلى الله عليه وسلم "الْوَرِقُ بِالذَّهَبِ رِبًا إِلاَّ هَاءَ وَهَاءَ وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ رِبًا إِلاَّ هَاءَ وَهَاءَ وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ رِبًا إِلاَّ هَاءَ وَهَاءَ وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ رِبًا إِلاَّ هَاءَ وَهَاءَ".

**دوهم:** د صرافۍ کاروبار بايد د خيار څخه خلاصه وي يعني احمد و خالد ته داسي نسي ويلی چي ډالر په يورو بدلې کړه او ماته اختيار راکړه که مي سبا ته دا سودا خوښه سوه کوم يې کنې بيرته سودا ردوم.

---

٢٦: فتح القدير ج ٦ ص ٢٥٨

٢٧: ( دراسات المعايير الشرعية المرجع السابق )

٢٨: ابن منذر: الإجماع (ص ١٣٣).

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته باید اختیار ځکه نه وي چي د دې کاروبار اساسي شرط دا دئ چي تبادله سوی اسعار باید دواړه په مجلس کي قبض سي اما اختیار خو دا قبض له منځه وړي ځکه د اختیار دا قاعده ده چي کله دی په سودا کي وي نو سودا پوره او کامله نه ګڼل کیږي، همدا رنګه په سودا کي اخیستل سوي شی د اختیار په وجود کي ملکیت نه ثابتوي.[29]

**دریم**: د صرافۍ په سودا کي باید وخت نه وي ټاکل سوی؛ مثلا احمد خالد ته اوس ډالر ورکړي، خالد ورته وایي چي ډالر معادل یورو سبا درکوم ، یا یې څه موده وروسته درکوم.

دا ځکه چي په صرافۍ سودا کي قبض په مجلس کي شرط دی، نو که وخت په سودا کي داخل سي نو دا شرط له منځه ځي نو قبض بیا نه رامنځ ته کیږي.

**څلورم**: په صرافۍ سودا کي باید تماثل وي؛ یعني زیاتوالی او کموالی به په هم مثله شیانو کي نه وي لکه سره زر په سرو زرو خرڅول په دې صورت کي داسي نسي کېدلی چي لس ګرامه سره زر دي په یوولس ګرامو سرو زرو خرڅ سي.[30]

په فورکس کي تر ټولو اساسي ستونزه د قبض (تسلیم) ده چي د تبادلې په صورت کي نه حقیقي او نه حکمي قبض منځ ته راځي؛ بلکي کله چي پانګوال ډالر په یورو خرڅ کړي نو نه دی او نه هم مقابل شخص خپلې پیسې قبض کولی سي چي دلته په قبض کي تأخیر (ځنډ) راځي چي دا د صرافۍ د سودا د شرایطو څخه خلاف دی او پر حرمت یې صریح نصوص راغلي چي موږ لوړ درته ذکر کړه.

که ته غواړې نور هم پوه سې نو د فورکس د کاروبار ډولونه چي موږ په پیل کي درته ذکر کړه هغه د صرافۍ پر شرایطو عرض کړه نو د حرمت فرق به یې درته ښه واضح سي.

## د اسعارو الیکټرونکي راکړه ورکړه

د اسعارو الیکټرونکي راکړه ورکړه د نړیوال د اسعارو د سټاک بازار مطابق د انټرنیټ په مټ تر سره کیږي.[31]

**د اسعارو د خرڅ ډولونه**

۱: جنس په جنس خرڅول لکه سره زر په سرو زرو خرڅول یا ډالر په ډالرو خرڅول.

۲: جنس په مختلف جنس خرڅول: لکه سره زر په سپینو زرو خرڅول یا ډالر په ریال خرڅول.

په لومړي کي هم تماثل او قبض شرط دئ.

په دوهم کي فقط قبض شرط دئ.

مسأله: که ځیني اسعار قبض سوه او ځیني قبض نه سوه نو کوم اسعار چي نه دي قبض سوي په هغه کي بیع باطله ده. او کوم چي قبض سوي په هغه کي صحیح ده.

د جمهورو فقهاء په نیز په قبض کي وکالت کول جائز دئ.

---

۲۹: السرخسي: المبسوط (١٤/ ٣٩)

۳۰: بشر محمد موفق بیع العملات الاکترونکي ص ۳۲

۳۱: التداول الاکترونکی : بشر محمد موفق ص ۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د قبض ( تسلیم ) ډولونه**

**حقیقي قبض:** لاس په لاس اخیستل په مجلس کي.

**حکمي قبض:** لکه د بانک فوري چکونه چي هروخت یې وروړې تاته پیسې درکوي.

## د اسعارو په تبادله کي د پیسو اخیستلو تګلاره

**لومړی صورت:** تا اوس پر یو شخص په امریکا کي ډالر په یورو باندي خرڅ کړه، هغه ستا اکاونټ ته پیسې را واړولې اما ته یې اوس نسې اخیستلی یا خو رخصتي ده او یا د بانک قانون دی چي دوې ورځي وروسته به یې اخلې نو دا صورت جائز دی په دې شرط چي هغه بل کس به په همدغه لحظه ستا اکاونټ ته پیسې واړوي د سودا متصل وروسته. دا منځ کي چي دوي ورځي وخت یا زیات او کم راځي نو دا د نړیوال عرف په اساس د عقد مجلس دوام ګڼل کیږي.

**دوهم صورت:** دوه کسان یو پر بل ډالر د یورو په مقابل کي خرڅ کړي، خو هغه چاچي ډالر رانیولي هغه ورته وایي زه یورو تاته دوې ورځي بعده درکوم. دا صورت حرام دئ؛ ځکه چي یو طرف قبض کړی بل نه دی کړئ.

**دریم صورت:** د اسعارو په تبادلې وعده سره کول؛ هغه داسي چي دوه کسان وعده سره کوي چي زه او ته دوې ورځي بعده ډالر اویورو سره تبادله کوو په دې کي څو صورته دي؛

۱: د یو لوري څخه الزامي وي د بل څخه نه وي شیخ مصطفی زرقاء دا صورت جائز ګڼلی.

۲: د دواړو لورو څخه عقد الزامي وي دا صورت په اتفاق حرام دئ.

۳: د دواړو لورو څخه الزامي نه وي داهم جایز دئ.[۳۲]

---

۲۳: التداول الالکترونکي بشر محمد موفق ص ۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پای

د فورکس یا آنلاین صرافی کاروبار یو لړ شرعي ستونزي او ملاحظې لري؛ ځکه مو په دې مقاله کي د دې کاروبار شرعي او مسلکي اړخونه و څېړل او همدا رنګه مو دې په اړه تفصیلي معلومات وړاندي کړل.

کیدای سي ستاسو په فکر کي دا خبره ضرور راسي چي راتلونکې نړۍ خو ټوله تجارت آنلاین کوي، او کیدای سي تر دې هم پر مختګ وکړي نو اسلام باید دې ته یو حل لاره ولټوي.

د دې ځواب دا دئ چي اسلام په معاملاتو کي اساني غواړي آن تر دې چي په ټول ژوند کي اساني غواړي، ځکه که سختي وسي ژوند پیچلی کیږي، بیا انسانان ژوند مخته وړي، شرعي احکام به شاته پاته وي نو لهذا په کاروبار کي آساني کول او حرج له منځه وړل یو شرعي اصل دئ چي په قرآن کریم او حدیث کي ورته اشاره سوېده.

خو یوه مسأله چي موږ باید ورته متوجې سو هغه دا ده، چي د اسلام سور خط باید لمس نسي الله تعالی او د هغه رسول د هرڅه لپاره یو لړ حدود ایښي، چي تر هغه تېردل په نافرمانی کي راځي او له هغو څخه یوه مسأله د حلال او حرام ده.

د فورکس په معامله تر ټولو حساسه مسأله همدا د حراموالي مسأله ده چي د اسلامي شریعت د ډېرو حساسو مسألو سره په ټکر کي ده چي د هغه پر حراموالي باندي اجماع وي، که چیري دوه نظرونه پکښې وای ممکن د خلکو د ضرورت له خاطره مو ورته د جواز لاره پیداکړې وای خو نسته. او بل حرام نه سو حلال کولی دا صلاحیت د الله تعالی دئ.

اوس نو باید د فورکس او د هغه مشران په خپل کاروبار او سیاستونو کي تغییر راولي او د اسلامي احکامو او اسلامي اقتصاد سره متوازنه تګلاره غوره کړي تر څو د ټولو خلکو لپاره د رزق ګټلو یوه وسیله سي.

بانکداري چي د معاصري دولتداری یو عضو ګڼل کیږي او پرته له دې د نړۍ سره اړیکه سخته ده، مګر د وخت په تېرو بیاهم چا د سودي بانکداری د جواز لپاره شرعي فتوی ورنکړه، بلکي  په بدیل کي یې اسلامي بـانکداري ایجاد سوه.

بله خبره دا ده چي د فورکس کاروبار د یوڅو کسانو د ګټي لپاره دی، چي کمېشنکار او ځیني بانکونه او شرکتونه ورڅخه ګټه پورته کولی سي، دا چي په اسعارو راکړه ورکړه معلومه ګټه چي په هغه کي صنعت وي، ایجاد او استهلاک وي نسته. که موږ فرض کړو یو ملیارد افغانی د سل ملیونه افغانیو په مقابل کي تبادله کوو، بیا یې رانیسو، بیا یې تبادله کوو بیا یې رانیسو؛ نو فکر کوم دا خو معلوم اقتصادي پر مختګ نه دئ؛ بلکي د اسعارو خراب بازار، نړیوال بدلېدونکی سیاست، امنیتي ستونزي، جګړې، او بد وضیعت خپله د اسعارو بیه خرابوي چي په نتیجه کي ضعیف اقتصادي هیوادونه پکښي تاواني کیږي.

اسلام د یو متوازن انکشافي اقتصاد پلوي کوي او هغه ته دعوت ورکوي.

په فورکس کي پر قرض سود اخیستل، حقیقي قبض نه کول، خیالي لیورج قرض ورکول بیرته پر هغه د حقیقي فیزکي پیسو ګټه کول او مارجن اخیستل؛ دا ټول هغه مسائل دي چي د سود او حرمت تر چوکاټ لاندي راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ځکه د حلال فتوی پر ورکول ډېره سخته ده .

امید دی چي د وخت او زمان په تېرېدو سره په سیاستونو کي تغییر راسي، نوي اجتهاد رامنځ ته سي، څېړني وسي یا د فورکس کوم بدیل پیدا سي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**